# د بجلۍ بحران ختمېدے شي

لیک او تحقیق: شکیل وحیدالله خان
ترجمه: عثمان سنجش

پښتونخوا د پاکستان اکې یوه داسې صوبه ده چې د خپلو قدرتي نظارو او ښائستونو په وجه په ټوله دنیا کښې مشهوره ده. د پښتونخوا شنۀ شنۀ پټي او باغونه، لوړ لوړ غرونه او خوارۀ وارۀ سیندونه او دریابونه او د دې ځائے د خلقو مېلمه دوستي د دې صوبې د پاره د فخر یو علامت دے. دې صوبې له چې الله پاک کوم قیمتي قدرتي معدنیات ورکړي دي هغه د دې صوبې د خلقو د پاره د نعمت نه کم نۀ دي. الله پاک د پښتونخوا د غرونو نه په راوتونکو اوبو کښې چې د بجلۍ پېدا کولو کوم طاقت پېدا کړے دے د هغې نه د پاکستان نورې صوبې بې برخې دي. د دې ځائے معدنیات او ځنګلونه یوه قیمتي خزانه ده. خو ډېره د افسوس خبره ده چې مونږ په شپېټو کالو کښې د الله پاک د راکړو دې نعمتونو نه هیڅ فائده وچته نۀ کړې شوه. هم دا وجه ده چې نن د دې صوبې اولس معاشي لحاظ سره کمزورے دے. نۀ د دې ځائے کارخانې خپل پېداوار زیاتولے شي او نۀ د دې خطې زراعت د بحرانونو مقابله په مړانه کولے شي. مونږ په هره سخته کښې جولۍ



بل ته نیولې وي او کچکول مو په غاړه وي او نورو صوبو ته خوار خوار ګورو. په ګدون امازۍ کښې د کارخانو قائمول یو ډېر لوئے مثال ؤ خو د وخت حاکمانو د ټېکس معافۍ او د ارزانې بجلۍ رعایت ختم کړو او هغه ابادې کارخانې ئې شاړې کړې. دا وخت پښتونخوا بجلي پېدا کونکې لویه صوبه ده چرته چې تربېله ډېم او ورسک ډېم د پاکستان ټولو کورونو ته بجلي ورکوي. خو د هغې په بدل کښې د دې صوبې معیشت له هیڅ وده ور نۀ کړې شوه د کومو په ذریعه چې د دې صوبې خلقو ترقي کولې شوه. پاکستان دا وخت د غنمو، پټرولیم مصنوعاتو او د توانايۍ د سختو بحرانونو نه تېرېږي او د دې بحرانونو نه د وتلو د پاره مونږ سره هیڅ کُوټلې حکمت عملي نشته. پاکستان کښې دا وخت اوسطاً د شپږو نه تر لسو ګېنټو لوډشېډنګ کولے شي چې د هغې له وجې د کارخانو مجموعي پېداوار انتهائي راکم شوے دے او د برآمداتو په نسبت درآمدات لګیا دي زیاتېږي. د پښتونخوا سیاسي مشرانو هر وخت د صوبائي خودمختارۍ خبره کړې ده چې د

هغـې صـرف او صـرف دا غـرض ؤ چـې صـوبې خودمختاره شي او د خپلو وسائلو نه خپلې فائدې وچتـې کـړي. دا وخت صـوبائي حکومـت تـه پـه راپېښـو ټولـو مشـکلاتو کښـې د ایـن ایـف سـي ایــوارډ، د تربېلــه ډېـم او ورسـک ډېـم د بقــایو وصولي او ورسره پـه تماکو د اخستونکي سېلز ټېکس پېسـې پـه صـوبائي ولقـه کښـې اخسـتل شامل دي.

پـه پښـتونخوا کښـې پرېوانـه ګېس پېدا کېږي خو د دې اختیار او واک هم د وفاق په لاس کښې دے. مونږ کۀ د توانایي په صورت حال نظر واچوو نو بجلي یو داسې څیز دے چې د یو ملک معیشـت مضـبوطوي. د بجلـۍ پـه وجـه د ژونـد سـهولتونه پـوره کېـږي، هـره پایـه او هـر مشـین د بجلۍ محتاجه دے. بجلۍ اوس د انسان په ترقۍ کښـې ډېـر اهـم مقـام حاصـل کـړے دے. زمـونږ بدقسـمتي دا ده چـې زمـونږ واکمنـو د واپـډا د متبادل بندوبست نۀ دے کړے. واپډا د فوج نه پس لویه او زوروره خودمختاره اداره ده چې خپل ځان هیچا ته جوابده نۀ ګڼي. واپډا دا وخت تربېله ډېم، ورسک ډېم او د داسې نورو ډېمونو نه ښه ډېره بجلي حاصلوي او ورسره فرنس آئل په ګران قیمت اخلي او ترمل بجلي هم پېدا کوي. تربېله ډېم دا وخت تقریباً 3874 مېګاواټ، ورسک ډېم 240 مېګـاواټ بجلي پېدا کـوي خو تربېلـه ډېم چونکې د ایریګېشـن مقصد هم پوره کوي لـه دې وجې نه د ارسا په وېنا د هغوي د پکار اوبو مقدار برابرولـو پـه غـرض صـرف 600 میګـاوات بجلـي جوړوي. بل طرف ته دا هم وئیلے شي چې واپډا د بدنیتۍ نه تربېله ډېم پـه دې مجبوره کړے دے چې هغـه دې صـرف 600 میګاواټه بجلي جوړوي. ځکه کۀ تربېله ډېم 3874 میګاواټ بجلي جوړوي نو بیا بـه واپډا هم پـه دې حساب سره صوبې لـه برخه ورکوي. نو د دې نقصان نـه د بچ کېدو دپاره کمه بجلي پېدا کولے شي چې د هغې پـه وجـه د صوبې ګټه هم کمېږي. کۀ دا خبره حقیقت وي نو بیا د لوډشېډنګ کېدل د واپډا سره سره د ملک د واکمنو غلطي هم ګڼلے شي. د حېرانتیا خبره دا ده چې دا وخت د واپډا اعلي واکمن په ملک کښـې د نـورو لویـو ډېمونـو چـې پکښـې کـالا بـاغ ډېم، مکوړي ډېم، باشا ډېم، منډا ډېم وغېره شامل دي، جـوړول د وخـت اهـم ضـرورت ګڼـي او د دې مقصد تر سره کولو دپاره په مېډیا او عـامو خبرو اترو کښې د کالا باغ ډېم جوړول د عوامو د ترقۍ او خوشحالۍ لوئے سبب ښیي او کله کله خو ترې د مـرګ او ژونـد مسـئله جـوړوي. دا وخـت چـې پـه ملک کښې کوم لوډشېډنګ کولے شي د هغې دوه وجې کېدے شي. یـوه دا چـې د زیـات نـه زیـات لوډشېډنګ وکړے شي چې عوام او واکمن په دې خبره مجبور کړے شي چې هغوي حتماً د کالاباغ ډېم او نورو لویو ډېمونو جوړولو منظوري ورکړي. دوېمـه وجـه دا ده چـې دوي د توانـایۍ د بحـران پروپېګنډه خوره کړي او پـه ملک کښـې د لویـو ډېمونــو جوړولــو دپــاره د خلقــو همــدردۍ او خواخُـوږۍ تـر لاسـه کـړي. کـۀ د بېن الاقـوامي اصولو په تناظر کښې د لویو ډېمونو جائزه واخلو نو دا سراسر د ملک او عوامو د فائدې خلاف دي. ځکه چې یو خوا خو په دې په اربونو ډالره خرچ راځـي او دوېمـه دا چـې د دې پـه جوړولـو مقـامي خلق بې کوره کېږي. د کرکوندې زمکې تباه کېږي

او د جنګ په صورت کښې دا لوئي ډېمونه اکثر د دشمن نخښنه وي. د لويو ډېمونو فائدې هم شته چې هغې سره د سېلابونو مخنيوے کولے شي، د اوبۀ خور دپاره ترې نه کار اخستے شي. مونږ کۀ د دې ډېمونو د مکمل کېدو اندازه ولګوو نو کم نه کم پينځلس کاله پرې ضرور لګي. ځکه نو دا خبره ښځي په ډاګه ده چې کۀ اوس په لويو ډېمونو کار شروع کړے شي نو ايله په 2025 کښې به مونږ د بجلۍ په بحران برے ترلاسه کړو.

زمونږ د ملک بدقسمتي دا ده چې په تعميراتي کارونو کښې زمونږ مختلفې محکمې زياته دلچسپي اخلي او ځکه ئې اخلي چې کۀ په هغې کښې د ملک او خلقو فائده وي يا نه خو هغه محکمې او د هغې افسران خپلو آئنده نسلونو ته هم د دغې ترقياتي کار فائده او خېر رسول غواړي.

واپډا دا وخت يو خودمختاره اداره ده. په ملک کښې د توانايۍ د موجوده بحران د نن نه لس کاله مخکښې اندازه لګول پکار وو چې ملک کښې به داسې بحران پېدا کېږي او دا د واپډا ذمه واري جوړېده چې هغه دوي تر سره نۀ کړه. واپډا د خپلو کوتاهو پټولو دپاره دا قسمه منصوبې بيا بيا راوچتوي او اولس نور نور پرېشانه کوي. دا وخت په ملک کښې د فرنس آئل، کوئلې، سېور انرجي او د اوبو نه د بجلۍ پېدا کولو په منصوبو کار شروع دے. د واپډا اراده او نيت چې هر څنګه وي خو زمونږ حکمرانانو خپله هم د دې حالاتو د مقابلې کولو دپاره څۀ حکمت عملي نۀ ده جوړه کړې. حکمرانانو همېشه په غلطو مفروضو او غلط اعداد وشمار اکتفا کړې ده. د واپډا د دې عمل نه د بچ کېدو واحد لاره دا ده چې د پښتونخوا نوے حکومت د وفاق سره په شريکه سرحد هائيډرل ډيولپمنټ آرګنائزېشن SHADO په مرسته په صوبه کښې د بجلۍ پېداوار له د ترقۍ ورکولو دپاره عملي او جامع منصوبه بندي وکړي. د يوې محتاطې اندازې مطابق دا وخت د پښتونخوا په غرئيزو علاقو کښې داسې مقامونه په ګوته کړي شوي دي چرته چې د کم نه کم يعني 35 زره نه واخله تر 40 زره مېګاواټ پورې بجلي په اسانه پېدا کېدے شي. خو دې مقصد ته د رسېدو دپاره به د صوبې حکومت د وفاق سره ملګرے کېږي او د واپډا په قوانينو کښې به ترميم کوي او پرائيوېټ سېکټر به د دې قانون نه ازادوي چې هغوي د 50 مېګاواټ نه تر لا محدوده حده پورې بجلي پېدا کړے شي او ورسره به واپډا د يوې معاهدې لاندې پابند کوي چې هغه به په هر صورت دا بجلي اخلي او د پاکستان اولس ته چې چرته د هغوي حاجت وي دا رسوي. ځکه چې د واپډا نه علاوه هيڅ يوې صوبې سره داسې انفراسټرکچر نشته چې هغه استعمال کړي او بجلي هر کور ته ورسوي. ځکه نو حکومت ته به د انفراسټرکچر باره کښې هم منصوبه بندي کول پکار وي.

دا وخت په پښتونخوا کښې سوات، چترال، ګلګت، صوابۍ او ملاکنډ کښې داسې قدرتي ځايونه شته چرته چې د هائيډرو پراجېکټ نه مونږ 40 زره مېګاواټ بجلي حاصلولے شو. زمونږ ضرورت کۀ چرې دوه زره مېګاواټ ته هم ورسي نو باقي 38 زره مېګاواټ بجلي مونږ خرڅولے او د صوبې په ښه ئې راوستې شو. دې

سره به یو خوا په اربونو آمدن صوبې ته راځي نو بل پله به د صوبې خلقو ته ارزانه بجلي ورکولے شي. مونږ د ارزانې بجلۍ په برکت صنعتي انقلاب راوستے شو. د اوبهٔ خور دپاره به مونږ ټیوب ویلونو ته ارزانه بجلي ورکوو نو د زارعت په میدان کښې به هم ښه ترقي وکړے شو. چې کارخانې ابادې شي نو کم نه کم د شپږو نه تر نهو لکو پورې کسان به په روزګار شي. د صوبې معاشي حالت به مستحکم شي، پیداوار کښې به اضافه وشي او مونږ به د عالمي منډهو د قیمتونو مقابله وکړے شو. دغسې د نوې ټکنالوجۍ په ذریعه په مقامي ابادو کښې بهیدونکو نهرونو باندې ټربائن لګولو سره د دوو نه تر اوو میګاواټو پورې بجلي په اسانۍ پیدا کولے شو چې د مقامي ابادۍ دپاره ئې استعمالولے شو او دا د بجلۍ پیدا کولو اسانه طریقه ده. د مالاکنډ تري هائیډرو پاور سټیشن 81 میګاواټ بجلي پیدا کوي چې د هغې نه 10میګاواټ بجلي د مالاکنډ انډسټریل علاقې ته ورکولے شي او د باقي 71 میګاواټ بجلۍ ساتلو دپاره مونږ سره هیڅ بندوبست نشته. دا وخت SHADO سره کم نه کم د 10 پراجیکټونو فزیبیلټي رپورټونه موجود دي چې د فنډ د نشتوالي له کبله المارو کښې پراتهٔ دي. نو کهٔ د دې پراجیکټونو دپاره صوبائي حکومت د فنډ بندوبست وکړي نو دغه فنډ به د بجلۍ پیدا کیدو نه پس په اسانه واپس کړے شي. د واپډا او صوبائي حکومت ترمنځه د جوړې شوې کمېټۍ د فیصلو دې د نوي سر نه جائزه واخستې شي او چې څومره بقایا د دې صوبې د واپډا په ذمه پاتې ده د هغې د اخستو کوششونو دې د وفاق په مرسته وکړے شي. کهٔ واپډا د خپلو بقایه جاتو په وخت د نهٔ ادا کولو په صورت کښې د کراچۍ الیکټرانک سپلائي بندولے شي نو هم د دې فارمولې پیش نظر، د پښتونخوا د مشکلاتو او ضروریاتو ترمخه دا بقایه جات واپډا له زر تر زره ادا کول پکار دي.

د تربیله ډیم او ورسک ډیم جوړولو په وخت د دې خبرې وعده شوې وه چې د دې ډیم په وجه بې دخله شوو خاندانونو له به هر ممکن امداد ورکوي خو د دومره مودې تیریدو باوجود هغه خلق لا اوس هم انتظار کوي. د دې ډیمونو په جوړیدو کښې د دې خلقو د پلار نیکهٔ زمکې، کورونه تر دې چې د هغوي قبرونه هم ختم شوي دي. د ملک د تعمیر او ترقۍ دپاره دغو خلقو قربانۍ ورکړې وې او دا زمکې ئې حکومت ته سپارلې وې او حکومت وعده کړې وه چې د دې بدل کښې به دوي له زمکې او کورونه ورکوي، په دغه امید هغوي کښې ډیر خلق د دې دنیا نه لاړل او چې کوم پاتې دي هغوي لوږې تندې تیروي یا خیرونه غواړي. واپډا هم د دې پاکستان ملکیت دے او دې کښې کار کونکي افسران او نوکران هم د دې ملک اوسیدونکي دي خو معلومه نهٔ ده چې د عوامو او د دوي ترمنځه دومره فاصله ولې ده؟ واپډا نهٔ خو صوبو ته د هغوي په



بقایو ورکولو کښې سنجیده ده او نهٔ د عوامو د ښېګړې دپاره څهٔ عملي او کُوټلي ګامونه اخلي. دا وخت واپډا د ترمل بجلۍ پېدا کولو دپاره د بېن الاقوامي منډهۍ نه په ډېر وچت قیمت فرنس آئل اخلي او په هغې بجلي پېدا کوي چې په هغې د عوامو اربونه روپۍ خرچ کولے شي خو په صوبو کښې د موجودو قدرتي نعمتونو نه فائده نهٔ وچتوي.

نن چې پاکستان د کوم صورتحال سره مخ دے نو اوس وخت راغلے دے چې مونږ خپلې فېصلې د خپلو ضرورتونو او مستقبل د نظر وړاندې نیولې وکړو. مونږ له د خپلو مفاداتو په ځائے د عوامو د مفاداتو خیال لرل پکار دي. د پاکستان د عوامو زیاته پېسه د بجلۍ په بِلونو کښې ځي یا بیا د ګېس او ټیلي فون د بِل نه ځاربېږي. داسې حالاتو کښې چې سرکاري خزانه خالي وي او عوام په بدحال خېرونه غواړي، یا د ډېرې لوږې نه خودکشۍ کوي، زنانه د خپل بال بچ د ګېډې دپاره خپل عزت خرڅوي، ماشومان د تعلیم او تربیت په ځائے د پردو خلقو بیګارونه او خدمتونه کوي نو داسې حال کښې مونږ له څهٔ پکار دي چې باقي پاتې دولت د فرنس آئل په اخستو ولګوو. زمونږ حکومت د دې متبادل منصوبه بندۍ نه ولې عاجزه دے؟ هغه کوم وجوهات دي چې د هغې له وجې حکومت خپل خلق د واپډا د عوام دشمنه پالیسو نه نهٔ شي بچ کولے؟ حکومت له پکار دي چې هغوي دې محکمې سره خپله خبرې اترې وکړي او عوام دوستنه پالیسۍ پرې شروع کړي او د وفاقي حکومت دا وړومبے فرض جوړېږي چې هغه د صوبائي حکومتونو د سفارشونو په رڼا کښې د هغوي بقایې ادا کړي او ورسره په واپډا د بوج کمولو دپاره د هائیډرل پراجېکټونو ترقۍ کښې نهٔ یوائې ممکن کردار ادا کړي بلکې د دې مقصد تر سره کولو دپاره فنډ هم ورکړي. کهٔ د پښتونخوا د مقاماتو نه 40 زره مېګاواټ بجلي پېدا کېدل شروع شو نو مونږ به نهٔ دا چې د ترمل بجلۍ غوندې ګران بیه پراجېکټ نه خلاص شو بلکې د خېبر نه واخله تر کراچۍ پورې هر کور، هره کارخانه او هر سړک به روښانه شي او باقي پاتې بجلي به په نورو ملکونو خرڅول شروع کړو. یقیناً چې زمونږ صنعتونه به بیا روان شي، زراعت به وده وکړي او دا قسمه بحرانونه به بیا نهٔ راځي. اولس به د حقیقي خوشحالۍ خوبونه په خپل ژوند ووینې. مونږ د پینځلس شل کاله انتظار کولو په ځائے په درېو څلورو کالو کښې د توانایۍ په دې بُحران برے موندے شو خو دا هله ممکنه ده چې مونږ د یو جامع او مربوط پروګرام لاندې د عوامو د فائدې فېصلې وکړو. د دې مقصد دپاره حکومت له پکار دي چې ټولو سیاسي پارټو او معاشي ماهرینو سره صلاح او مشورې وکړي. صوبائي حکومت کهٔ په خپلو هدفونو تر سره کولو کښې کامیاب شو نو امېد دے چې دا صوبه به د ترقۍ او خوشحالۍ په لاره روانه شي. بس په کار کښې د سنجیدګۍ پېدا کولو ضرورت دے. د کالا باغ ډېم غوندې متنازعه منصوبې په ځائے مونږ له په داسې پراجېکټونو کار کول پکار دي چې هغې سره نهٔ دا چې په خزانه بوج کم پرېوځي بلکې د هغې مقابله کښې مونږ د الله پاک د راکړو شوو قدرتي نعمتونو نه زیاته فائده اخستې شو او مونږ ته به راروانو سلو کالو کښې هم د کالا باغ ډېم جوړولو ضرورت نهٔ پېښېږي.